# آیا
# امیندواره یاست؟



د سرپو په زهرو د اخته کیلو په وړاندې مو د ماشوم ساتنه وکړئ

## خپل ماشوم د سرپو په زهر د اخته کیدو د مخنیوي په موخه اقدام وکړئ

✓ سالم خواړه وخورئ





✓ وینه مو معاینه کړئ

✓ لاسونه مو پریمنځئ





✓ ځایونه لوند او پاک کړئ

✓ بوټان مو د کور د دروازې سره وباسئ





✓ مسلکي کارکونکي وګمارئ



د څکلو پاکې
او روغتیایې اوبه وکاروئ

اوبه مو د سرپ لپاره معاینه کړئ

که چیرته مو اوبه سرپ لري د څکلو، پخلي، یا ماشوم ته د وچو شیدو د برابرولو لپاره په سرپو ککړ شوي اوبه مه کاروئ

د سرپو څخه د مخنیوي په موخه د اوبو نلونو د ۶ ساعتونو د نه کارولو څخه وروسته پریمنځئ ، او د څکلو ، پخلي او ماشوم ته د وچو شیدو د تیارولو لپآره د سړو ابو څخه کار واخلئ.





### د ډیرو معلوماتو لپاره

خپل د ماشوم د داکټر یا ځایی روغتیایی اداری سره اړیکه ونیسئ. د ولسوالئ په اساس د روغتیای مرکزونو لیست دلته لیدلای شې: **http://www.ncalhd.org/directors/**.

د شمالي کرولینا د Heath and Human Service، د عامه روغتیا ادارې، د چاپیریال ساتنی د اداری، په ماشومتوب کې په سرپو د اخته کیدو د مخنیوي پروګرام، اړونده :اضافي سرچیني دلته لیدلائ شې: **http://ehs.ncpublichealth.com/hhcce hb/ cehu/index.htm#clppp** or 1-888-774-0071.

NORTH CAROLINA HEALTHY HOMES
www.nchealthyhomes.com

NC DEPARTMENT OF HEALTH AND HUMAN SERVICES
Division of Public Health

UNC-Chapel Hill


په ۱۷ د مارچ معلومات نوي شوي

*دا مواد د امریکا د کنټرول او مخنیوي د اداري او د امریکا د چاپیریال ساتني د ملي انیستیتوت په بودیجه برابره شوی.*

*Images from istockphoto.com, thinkstockphotos.com, canstockphoto.com*

# LEAD FACTS

## په بدوکی د سرپوداسی کمه کچه نشته چی خطر ونلري

- سرپ یو فلز دی چی مور په خپل نس کې ماشوم ته انتقالوی شي.

- حتی د سرپو کمه کچه هم ستاسو د ماشوم په وده اغیز کولی شي. په همدی توګه ستاسو د ماشوم مغزو او پختورګو هم بد اغیز لرلی شي.
- سرپ کیدای شي ددی لامل شي چی ماشوم مو د خپلی مودی څخه ډیر دمخه او ډیر کوچنې وزیږیږي.
- په سرپو ککړ هوا د تنفس کولو یا تیرولو له لاري هم په سرپو اخته کیدای شي.

- خپل ډاکټر څخه پوښته وکړئ چی ایا تاسی یا ساسی ماشوم په سرپو د اخته کیدو په خطر کی یاست که نه
- تاسو باید خپله وینه معاینه کړئ تر څو پوه شي چی ایا ستاسی په وینه کی سرپ شته که نه چی ستاسی په امیندواریٔ اغیز وکړي
- شونې ده تاسو د امیندواریٔ پر مهال د سرپو د وړیا ازمایښتونو وړ وئ، خپل ځایی روغتیایی اداری سره اړیکه ونیسئ تر څو پوه شئ چی ایا تاسی مستحق یاست که نه



## پوښتنه؟

1-888-774-0071 شمېرې سره اړیکه ونیسی او د شمالي کارولینا د سرپو د زهرو څخه د مخنیوي پروګرام سره خبري وکړي .

## ددی کارونو څخه په مخنیوي کولو خپل ماشوم په سرپو د اخته کیدو څخه وساتئ

بهر څخه راوړل شوي خواړه






په سرپو د اخته کیدو په خطر کی کارکونکې

په پخوانیو کورونو کی د کور بهرپه سرپو ککړرنګ



پلاستیک اووینیل څخه جوړی شوی پردی





په سرپو میناتوري شوي لوښي

د کور دننه په سرپو ککړ رنګ



په سرپو ککړ اوبه او د اوبو نلونه





د ښکار او ماهي نیونې شیان

په غیر معیاري ډول د کور بیا رغونه



### د امیندوارو میرمنو لپاره خطر:

تاسو په خپله وینه کی د سرپو د شتون خطر په لاندی حالتونو کی لرئ :

- داسی دنده لري یا داسی چا سره ژوند کوی چی د بطریٔ د بیا کارولو ، رغینزو چارو ، رنګ کولو یا په تولیدي ځای کی دنده لري.
- له بهر څخه راوړل شوی مصالی چی شونی ده سرپ ولري.



- د عبادت د توکو کارول چی شونی ده سرپ ولري لکه:
  - د سترګو د ښکلا توکی لکه د سترګو خط، کجل ، د سترګو لاندی ښکلولو خط، رانجه، تزالي ، کوالي ، کوم کوم ، سندور
- د خوړو غیر منظم خوراک یا پیکا (د غیر خوراکي شیانو خوړول چی شونې ده سرپ ولري لکه د رنګ ذری، خاوره ، خټه)
- یونانې ښناک یا چای یا هم کور کی جوړ شوی درمل لکه :
  - Azarcon
  - Ba-Baw-San
  - Daw Tway
  - Daw Kyin
  - Ghasard
  - Greta
  - Payloahmay
- په وروستیو کی دداسی هیواد څخه امریکا ته راغلي یاست چی هلته سرپ اخته کیدو کچه ډیره وي لکه مکسیکو، اکوادور ، بنګله دیش ، پاکستان یا هندوستان